# په لنډيو کښې د پښتنو د ملي مبارزو يوه څېړنه

**Reflection of Pashtoon's National Resistance in the folk genre Landai (Tapa)**

ډاکټر نصرالله جان وزير
قاري عبدالرحمٰن کاکړ

**Abstract:** *Folklore is still considered the most authentic and concrete testimony regarding norms, tradition, culture and civilization of a nation. The writers of the paper conversed the national movement of Pashtoons covered up in the Pashto folkloric genre; Landia. Orientalists and prominent writers of Pashto literature trace signs of landia in Aryan songs of the prehistoric period.*
*The authors thrashed out assorted phases and era of the Pashtoon national resistance, in support of it and against the aggressors such as Hotki movement, Battles of Mewand, Baghlan, Khost and invasion of Chitral and Waziristan by British forces besides Sour revolution respectively*.

د فوکلورپه حقله وئيل کيږي چې " فوکلور د زيار ايستونکيو خلقو دهلو ځلو او د ژوند د پېښو هېنداره ده، چې په هغه کښې د خلقو اجتماعي سايکالوجي، ملي کرکټر، د دوئ انګېرنې او برداشتونه د هغوئ ارمانونه او غوښتنې د دوئ ذوق او د پوهې سطح ، د دوئ مبارزې او فعاليتونه، او پائ کښې د دوئ د باطني نړۍ ژورتياوې انعکاس مومي . . . په داسې حال کښې چې تاريخ او ټولنپوهنه د يو ملت يا ټولنې د موجوديت يواځې سطحي او قشري بڼه راښائي، فوکلور مونږ د هغوئ له روح سره اشنا کوي او د خلقو مفکورې، جذبات ارزوګانې په کښې منعکس کيږي، د هغۀ په پراخ مفهوم سره فوکلور د بشري ذهنيت او احساساتو ښېلګه ايزه څرګندونه ده". ۱

له دې څخه یوځو په انساني ټولنه کښې د فوکلورپه ارزښت ځان پوهول دي او بل د هغه دائره کار تعین کول دي، چرته چې فوکلور د ټولنې په بیله بیلو اقدارو کښې خپل وجود بشپړه وي، یعني چرته چې فني ادب د انسان داخلي کیفیات نهٔ شي را لېږولی، هلته یواځې فوکلورکولی شي چې دانسان په داخلي کیفیاتو کښې غلبلې پیدا کړي او دانسان ویدو جذباتو کښې په یو نه یو ډول غلبلې راپورته کوي.

انساني افکار په دوه ډوله اظهار ته لاړ جوړوي، یو تحریري بڼه ،کوم چې په یو چا پورې مخصوص وي ،بل هغه چې لیکونکي ئې معلوم نهٔ وي، او نهٔ دیوې مخصوص علاقې، قوم یا ځائ پیداوار ګڼلې شي. بلکې دا د ټول اولس شریك ادبي میراث بللی شي. دغه اول صورت ته ئې فني ادب او دوېم ته اولسي یا عوامي ادب وئیلی شي.

اولسي ادب یاعوامي ادب چې دفوکلورپه نامه هم یادول کیږي ،دغه " فوکلور د انګلیسي ژبې کلمه ده چې( فوك ) [Folk] خلق،اولس[ ته وائي]او لور [Lore]د ( پوهه،زده کړه) معنا لري، چې په دې صورت د ( فوکلور) معنا ( اولسي پوهه ) ده . . . د اولس دودونه، عادتونه، طب، کور جوړولو، کرنې، پوشاك، خصوصیات، قیصې، سندرې، معاملې او نور [د ژوند اقدار] ور کښې شامل دي ". ۲

یعني هغه پوهه چې داولس دعام اوخاص وګړیو د ژوند د اوږدې مودې د مشاهداتواو تجرباتو د یوغوره او لوړ عکس العمل په نتیجه کښې مینځ ته راغلې وي،او وروسته نسل ئې دیوې قومي مفکورې په توګه دخپلو روایاتو دامین په خاطر ژوندی ساتي. ځکه فوکلورتل یوه مشخصه موضوع ګرځېدلې ده ،ولې چې په دې کښې دیوې ټولنې د ژوند ژواك هر ډول دود دستور،نرخ بایدهٔ او رواجونه ځائ شوي وي.

" هغه وخت چې بشر د لومړي ځل له پاره د طبیعت له مظاهرو سره مخامخ شو نو د دې موجوداتو او اشیاوو په مقابل کښې چوپ او غلی پاتې نهٔ شو او دخپل طرزتفکر سره سم ئې خبرنه په کښې وکړه، دهٔ له هغې ورځې چې دوجود په ډګر کښې قدم ایښې دی تل ئې زیار

ایستلی چې داشیاوو او موجوداتو حقایق او ربښې ځان ته معلومې کړي، نو ځکه له هرڅهٔ سره چې مخامخ شوی فکر او غور ئې په کښې کړی دی، نو ئې یوه نتیجه لاس ته راوړې او د خپلې کنجکاوي او پلټنې دحس دتسکین له پاره ئې هر مجهول معلوم ولو په غرض منډې رامنډې کړې دي" . (3)

یقیناً چې فوکلور د انساني ټولني له ابتدا یا د انسان د ټولنیز ژوند له پیل کېدو څخه شروع شوی، ولې په تحریرکښې راغونډولو ته ئې ډېر وروستو پام شوی. لکه زمونږ په پښتو ادب کښې د دې ابتدا له هغه زماني څخه راشروع شوې ده کله چې خوشحال بابا خپل زوئ صدرخان ختټک ته د آدم خان درخانۍ قیصه په پښتو مثنوي اړولو تلقین کړی وو. پس له دغه بیا نورو ډېرو شاعرانو ډول ډول قیصې ولیکلې، چې وروستنۍ غوره بېلګې ئې د مولوي احمد ، میر احمد شاه رضواني او منشي احمد جان په قیصیو کښې ښکاره شوې . یعني دا چې فوکلور د خپل تاریخي قدامت له رویه د انساني ټولنې له جوړښت سره سم خپل زېږون ښودلی، ولې بشپړه څېړنې په کښې هغه وخت شروع شوې کله نه چې په نړۍ کښې علم او ادب هر چېرې عام شو.

اولسي ادب داولس زړونو ته نژدې او په هر زمان کښې د دوئ دارمانونو دتسکین یوښکلي اثر په توګه یاد شوی، داځکه چې ، " اولس ته ډېر نژدې ادب اولسي ادب وي، دا ادب په صادقانه، ربښتني، ادبي رویه بې ریا توګه له اولس سره مربوطې پېښې په خپله غېږ کښې رانغاړي، ادبي کوي ئې او له دې لارې ئې ابدي کوي هم ، -----د وروسته پاتې ټولنو اولسي ادب د دوئ تر تاریخ نه هم مستند او ربښتینی وي، ځکه د داسې ټولنو تاریخ معمولاً یاپردي لاسونه لیکي، یا دغرض لاسونه یا د درباروناو دولتونو منشیان، مېرزایان او ګومارل شوي مؤرخین، نوهغه څهٔ چې ددې اولس په باب په اولسي ادب کښې ترلاسه کېږي په تاریخ کښې به ئې نهٔ مومو" . (4)

## د پښتو اولسي ادب:

پښتو اولسي ادب چې د پښتنو د ژوند د باطني او خارجي کيفياتو مظهر دی په هر زمان کښې په دې توانېدلی چې د دې اولس دجذباتو او احساساتو رښتونې عکاسي وکړي. څنګه چې اولسي ادب يو رښتونی ادب وي ،په کوم کښې چې ادبي روايات ،کلاسيك طرز اصول او يا مصنوعي بنديزونه کله هم نۀ اختيارول کيږي، په دغه دود پښتو اولسي ادب ديو خاص ځانګړي ملي ادب په څېر منل شوی.ځکه څېړونکي په دا نتيجه رسېدلي دي چې دا د يو ژوندي، متحرکه، ازادي خوښونکي باتوره، بااستعداده اود با ارزښته قوم دژونديو رواياتو يوه ملي ورثه ده.

دپښتون قوم دمنفرد مزاج په څېر دپښتو اولسي ادب هم دنړۍ په اولسي ادبياتو کښې ځانته يو جلا طرز اندازلري ،کوم چې دپښتو اولسي ادب يو خاص اسلوب بلل کيږي . يعني په دې کښې نۀ خو د فردوسي د شاهنامې په څېر د دروغو لافې او کمالات ښودل خپل امتياز ګڼل شوی او نۀ ئې دحسن و عشق د وارداتو په بيان کښې چېرې هم لکه د عربۍ او فارسۍ معشوق ته سپکتيا ښودل شوې ده. له دې کبله دپښتواولسي ادب که يوخوا ته دپښتني ټولنې دملي او اجتماعي مزاج ښکارندوئ دی، نوبل خوا د پښتو نقل چيانو ذهن و فکر خو هم هغه د "انوري" "عسري" "عسجدي" يا نورو شاعرانو په څېر قصايدو ته مېلان نۀ دی ښودلی، دا ځکه چې چاپلوسي، درباريت او غلامي دپښتنو په خمير کښې نۀ ده اچول شوې.

هرڅو که دا ومنل هم شي چې دپښتو اولسي ادب لومړی څرك دخوشحال بابا له دوره څخه راشروع شوی،خو دپښتنوځنې تاريخي روايات، قومي اوملي دودونه او رواجونه که په دقيق نظر سره وڅېړل شي،نو له هغې نه دېرداسې مواد لاس ته راځي کوم چې د نورو اريائي اولسي اثاروسره ترډېره حده مطابقت لري، لکه د"رګ ويدا" ( سنسکرت)

او"اوستا" په زاړوتاريخي قيصوکښې او يا د رامائن اومهابهارت بهجنونه چې دپښتوځنو اولسي لنډيوته ورته والی لري.

خواکثرمحققين په دې متفق دي چې " زمونږ خلقو د پېړيو په اوږدو کښې خپل ارمانونه، خپلې خوښې، خپل غمونه، خپلې مينې او د خپل اجتماعي ژوند کړۀ وړۀ په دغو شفاهي ادبياتو کښې بيان کړي".۵

شفاهي ادب له پېړيو راسې خپل انفراديت په هره ټولنه کښې منلی ،ځکه هلته چېرې چې په ځنې قومونو کښې تحريري اد ب لا په سمه توګه بشپړشوی نۀ ؤ نوهغوئ به همېشه د غم او خوشئ په موقعه دخپلو احساساتو او جذباتو اظهار هم په دغه اولسي ادب کښې کولو.

## د اولسي ادب انفراديت:

اولسي ادب د خپل ساخت اوماهيت، د موضوع او مواد، د وارداتو او کيفياتو په بيان کښې يا د غم او خوشئ د اظهار په موقعه خپل جمالياتي او افاقي حيثيت قائم ساتي. هم په دا اساس که څوک غواړي چې د پښتنو د ټولنيز ژوند اجتماعي روحيات و ته دې ځان ورسوي، نو هغوئ د اولسي ادب د تحليلي څېړنې له لارې ډېر څۀ لاس ته راوړلی شي. اولسي ادب په څو ډوله اظهار ته لار برابروي،لکه ځنې وخت دا د علامت نګارئ په انداز کښې او بعضې وخت بې د څۀ کړکېچ نه نېغ په نېغه ساده پېرايو کښې وړاندې کېږي . لکه د پښتو قيصه ايز نکلونه، داستانونه، بدلې، لنډئ او ځنې نور.

دپښتو منظوم اولسي اصناف د جوړښت په لحاظ بېخي ډېرساده طرز لري، نۀ مشق او رياضت غواړي، نۀ مکتب ته اړتيالري، نۀ د استاد او نۀ ورته علوم او مراتب شرط دي . که څۀ ورته ضروري دي، بس هم دومره چې موقع او محل دې د فطرت سره هم اهنګ وي . په دې اساس که په لنډه توګه دا ووئيلې شي چې د نړئ د هر سپېڅلي رسا اولسي ادب په څېر پښتو اولسي ادب هم د خپل پربمانه بحر په مصداق دا دعویٰ لرلی شي، چې د دې ادب هر يو توری، هره يوه فقره، هره يوه

مصرعه، یا هر یو صنف د پښتنو د متمدن ژوند، د جلال و جمال، د کمال او پرېواتون اود هر دورد حوادثو یوه غوره آئینه ده.

## په لنډیو کښې دپښتنو ملي مبارزې:

پښتو اولسي ادب چې د خپلو ځانګړیو خصوصیاتو له امله په هر دور کښې د اولس د احساساتو او جذباتو د اظهار یوه غوره فطري ذریعه ګرځېدلې ده، په هر زمان په دې توانېدلی چې داولس داجتماعي ژوند نقش په خپله لمن کښې راونغاړي. دا که له یوې خوا داولس د روحیاتو اواحساساتو ښه لري، نو ورسره دا په داخل کښې دتاریخ ډېرې داسې ورکې کړۍ هم لري، چې ارزښت او انفرادیت ئې په هر زمان کښې مسلم دی. لکه د محمود غزنوي د دور یوه ټپه، د هوما یا سوما په اړه د وئیل شوې ټپې تاریخي قدامت، د زرتشت د دین و مذهب په اثر د زېړې لمر وړانګو په حقله لنډۍ، د هوتکي پاځونونو نارې په چترال د انګرېزانو د ورختلو په باب لنډۍ، په وزیرستان کښې د انګرېزانو سره جنګونه، د سید احمد شهید په حقله وئیل شوې نارې، د میوند د جګړې لنډۍ او هم دغسې په اوس مهال کښې په افغانستان دروس او غرب دیرغلونو په ضد دافغانانو دسترې مجاهدې په حقله وئیل شوې لنډیو کښې د پښتون قوم د تاریخ روښانه داستانونه خوندي دي.

د محمود غزنوي له لښکریانو څخه یو د ملك خالو لښکرهم ؤ، چې له محمودغزنوي سره دهند په جګړو کښې ئې ګډون درلود. هغه لنډۍ چې د ملك خالو په حقله وئیل شوې ده، له هغې نه نۀ یوائې دپښتولنډیو تاریخي قدامت ثابتیږي، بلکې په دې کښې د زړۀ ور پښتون ملك خالو نوم او دهغۀ په حقله دیوې پښتنې چنغالې د مینې احساس هم خوندي شوی دی:

که د خالو لښکرې راغلې
زۀ به ګومل ته د خپل یار دیدن له ځمه

" ګومل د روه دغرونو په سلسله کښې يوه مشهوره دره ده چې دهند دفاتحينو لاروه او ملك خالو دسلطان محمودغزنوي په زمانه کښې دپښتنو له نامتو سردارانو څخه دی چې خورشيد جهان او دسعادت خان " فضايل السعادت" هم د دۀ نوم دهغه عصر د لويو سردارانو په تولي کښې ښودلی دی" .۶

پښتو اولسي ادب کښې په سلهاوو داسې لنډۍ شته چې له هغې څخه دپښتنو داجتماعي ژوند تاريخي وړانګې په اسانه ښکاره کېدلی شي، دمثال په توګه دا يو څو لنډۍ چې دپښتونخوا په مزکه دبيله بيلو حالاتو ښکارندوئ دي ورته پام وکړئ.

پاس په کابل جنګ دی
سپين وروکی ګل په ناوکی وربژېدنه

د پېوار تنګي په سر د جنګ په حقله دا لنډۍ وګورئ:

د پېوار سر د پرښوو نۀ دی
څو د زلميو په دې جوړ نۀ شي زيارتونه ۷

دې لنډۍ کښې د باجوړ د غزا يو ښکلی نقش وړاندې شوی دی.

هم دغسې يوه بله لنډۍ چې په کښې د نوميالي پښتون ايوب خان د مېوند د غزا مېړانه ښودل شوې ده، ورته پام وکړئ:

د هندوستان پېرنګی ژاړي
که ژړ ايوب په دنيا وي کوندې به شونه ۸

دغسې کله چې دشلمې پېړۍ په وروستۍ لسيزه کښې په پښتونخوا باندې يو ستر ناورين وتپل شو، نويو ځل بيا پښتنو ورته سنګرونه ونيول. د وطن هر ه لوېښت ئې ورته سور هور کړه ، غليم او يرغلګر ئې هر لحاظه پرېشانه وساتۀ . په لاکونو انسانانو قرباني ورکړه ،

کورونـه ئـې ویجـاړ شـول، په لاکونـو مهـاجر شـول ، لـه شـهیدانو هـدیرې ډکـې شـوې ، بچیـان ئـې دربـدره شـول ، تـر حسـاب تېـر معـذوره ، کونډې او پېغلـې پـه خیرنـو کـالیو کښـې دیوبـل و در تـه پـه درپـدو مجبـورې کـړل شـوې. یـو خـوا پـه عمـل کښـې جهـاد روان ؤ، نـو ورسـره ورسـره دقلـم خاونـدانو قلمـي مجاهـده هم شروع کـړې وه. خـو دوطـن دباسـواده طبقـې تـر څنـګ یـوه طبقـه داسـې هـم وه چـې د جنـګ پـه محـاذونو کښـې بـه ئـې کلـه هـم خپـل احساسـات پـه څپـو شـول ،نـو بـه ئـې دخپـل سـوي زړۀ درمـان کلـه پـه غاړو، کلـه پـه چـاربېتو او کلـه پـه بـل کـوم صـنف وئیلـو سـره ترسـره کولـو. پـه دا غـاړو کښـې یـو خـوا تـه دهغـوئ احساسـات او جـذبات خونـدي دي، بـل د دې سـترې پېښـې ډېـر سـتر واقعـات خو هم په دغه لنډیو کښې محفوظ کړل شوي دي.

د پښـتنو یـو ځـانګړې صـفت دا هـم دی چـې دوئ خپـل احساسـات او جـذبات هـم هغـه شـان اختیـاره وي څـۀ ډول چـې فطـرت دوئ تـه ورښـودلی دی. لکـه د فرصـت،امن او خوښـۍ پـه وختوکښـې دوئ بیـا د غـمِ جانـان او غـمِ وصـال پـه خوبونـو کښـې ورك وي،ولـې کلـه چـې خبـره دملـي غروردلوړتیـا ،دوطن پـه سـرد ننګ،نـاموس،عزت ،مېړانـې او یـا د ملـي هـوډ د ګټلـو راشـي، نـو بیـا تـوره ایسـتلې ببرسـر د جنـګ ومیدانوتـه داسـې ورزغلي،ګویـا پرتـه لـه جنـګ اوجـدل ئې هېڅ کوم بل کار په جهان نۀ دی کړی.

پـه جدیـد دورکښـې کـه څـۀ هـم لیکلـی ادب (تحریـري ادب ) ډېـر پـه مـخ تللـی اوهلتـه ئـې د اولسـي ادب پـه پایشـت هـم سـتر اغېـز کړی،خـو ددې هرڅـۀ باوجودپښـتو اولسـي ادب ( پـه تېـره لنـډۍ ) پـه دا مشـکل حـالاتو کښـې نـۀ یـوائې خپـل وجـود برقرارسـاتلی، بلکـې ددې سـترناورین پـه اړه ئې ډېر دقدر وړتاریخي حالاتو او واقعاتو نقشونه هم خوندي ساتلي دي.

کلـه چـې پـه 1978ء کـال کښـې دثورکودتایـا دثـورانقلاب پـه نامـه دپښـتونخوا پـه مزکـه سـتره نړیوالـه سـپېره لوبـه رامنځتـه شـوه،نو پښـتون ملـت لـه هـره خـوا لـه زښـتو مسائلوسـره مخـامخ شـو، دربـدري او بـدحالي عـام شـوه ،ولـې پـه دا مشـکل حـالاتو کښـې هـم پښـتنو همـت و نـۀ بایلود.پرتـه لـه نـورو زښـتو تـاوانونو کـه پـه ادبـي توګـه وکتـل شـي نـو ددې موضـوع پـه اړه

ډېرارزښت من او حساسه مواد دادب او تاریخ په پانو کښې خوندي شوي دي. خود دې پېښې هر اړخيز اثر ته که وکتل شي، نو ددې اغېز څومره چې د باسواده طبقې په افکارو کښې محسوس شوی، دغومره انعکاس ئې دعام اولس په احساساتو کښې هم ښودلی. بیا خصوصاً په لنډیو کښې خو ددې اثر ببخي زیات دی. دا ځکه چې لنډۍ دپښتو اولسي ادب هغه په زړۀ پورې صنف دی چې دپښتنوژوند اوژواك تر بل هر صنف زيات په کښې په فطري بڼه منعكس شوی. لكه ښاغلی دوست محمد دوست ليكي، " دپښتو داولسي ادب روحياتو، دژوند دشرائطو، كلتوراو دود پېژندنو له پاره لنډۍ دیوۀ دائرة المعارف حيثيت لري ".۹

غرض دا چې په پښتني ټولنه کښې له یوې زماني روان قومي او ملي شور که یو خوا دقومي او ملي تحریکونو سبب ګرځېدلی،نو ورسره ورسره دپښتو دمقاومتي ادب مضبوط بنسټونه هم له دې سببه پیاوړي شوي. دغه دپښتو دمقاومتي ادب وړانګې نۀ یوائې په کوزه پښتونخوا کښې لوئ شورشونه رازېږولي، بلکې هلته په بره پښتونخواکښې ئې هم د ژوند په هر ډګرمضبوط اغېز ښودلی. خوله بده مرغه په افغانستان کښې دثور ناوړه کودتا یوه داسې پېښه وه چې ئې د ناوړتوب هېڅ مثال په تېره زمانه کښې نۀ ليدل کيږي . دې پېښې نۀ یوائې دافغانانو ټولنيز ژوند کرغېړن کړلو، بلکې د افغانستان ادبيات ئې هم سره وشنول.

مخکښې تر دې چې د واقعاتو په ترتيب لنډۍ راوړل شي، بهتره به وي چې يو څو متفرق لنډۍ دموضوع د خوند سېوا كولو په خاطر وړاندې کړل شي . د نمونې په توګه دا يوڅو لنډۍ ولولئ:

"د سكندر چې زړۀ تر پې شين ؤ
په هغو غرو کښې روسان په ژړا دينه

د اسلام فخر شوې افغانه!
چې سرو لښكرو ته دې ورکړل ګزارونه

وطــن خــوړلی رانــه نــهٔ شــې
روســـیه ولـــې ورانـــوې ودان کورونـــه

د وطــن فــروش کارمــل د لاســه
روســـان کورونـــه ړنګـــوي مالونـــه وړینـــه

خــدایٔ بــه اخــر وطــن ازاد کــړي
مــدام بــه نــهٔ وي د جــابر روســي ظلمونــه

خــدایٔ بــه مــې درولــي وطنــه!
پــه تــا جــار کــړي شــهیدانو دي ســرونه

او دا یوه لنډۍ چې:

افغانســتان بــه خــدایٔ ازاد کــړي
د ناصــر بــاغ پــه ویلومــه کــریٔ ګلونــه" ۱۰

د نړۍ په معلوم تاریخ کښې دپښتونخواپه مزکه ډېرکم داسې وخت راغلی چې داخطه دې په ارام پرېښودل شوې وي او ددې قوم وګړیودې په ارامه فضاکښې ژوند کړی وي. له سکندریوناني نه راواخله تردا اوسه مهاله پورې هېڅ یو داسې قوم به نورنهٔ وي پاتې چې ئې خپل تندی له دې قوم سره نهٔ وي وهلی. په دې تېریواو یرغلونوکښې که څهٔ هم پښتون ملت اوپښتونخوا ټوکرټوکر شوې ده،ولې ملت ئې چېرې هم خپل ملي هوډ او ازادي له لاسه نهٔ ده ورکړې. تاریخ په دې شاهد دی چې هر یرغلګر دې خاورې ته ډېر په اسانه راننوتلی ،ولې په بېرته تګ کښې ئې سر ګرځیدلی او له دې خاورې څخه هغه وخت رخصت شوی کله چې بیا پښتون ملت ورله اجازت ورکړی. که څهٔ هم دپښتنو په ملي تاریخ کښې داسې په سلګونو واقعات دي، خو له دې ټولوڅخه ناوړه اوبده پېښه دغه ۱۹۷۸ء کال دثور کودتا وه چې دافغانستان په تاریخ کښې یوه بده غمیزه بلل شوې ده . په دې

اړه دتاريخ په پاڼو کښې ډېر څۀ ليکل شوي دي، په ادبياتو کښې ئې هره خوا روښانه کړل شوې ده،خو ددې پېښې په حقله دعام پښتون اولس نظرکوم چې په لنډيو کښې وړاندې شوى ،ته ډېره کمه توجه شوې ده. لنډۍ چې دپښتودملي ادب ستره برخه تشکيلوي ، نۀ يوائې دپښتنو امروزه ژوند په باب ډېر څۀ په کښې وئيل شوي،بلکې هرډول تاريخي، قومي اوملي پېښو په اړه هم ډېر څۀ په کښې وئيل شوي دي.

دافغانستان دغه ستره غميزه چې ۱۹۷۸ء کال څخه راشروع ده، په دې تسلسل کښې تر دا اوس مهال پورې چې هر څومره مهم واقعات شوي دي، دهغې انعکاس په پښتو لنډيوکښې په يو نه يو ډول ښودل شوى . په دې کښې بې شمېره داسې لنډۍ دي چې دجهاد دارزښت ، دوطن دننګ او دفاع سترمرام،د شهادت او دشهيدد مراتب په کښې ښودل شوي دي، او يا هغه لنډۍ چې په کښې روسانواو دهغوئ ګوډاګيانو په باب بد شامت وئيل شوى . له دغولنډيو نه يو څو په ترتيب سره په لاندې ډول راوړل کيږي.

**وطن :**

ماد پکتيا ترغرونو جارکړې
چې په کښې مات شول دروسانو قطارونه 11

خدايه! هغه به کوم ساعت وي
چې دکابل په بيرغ وشيندم ګلونه

کابله! بخت دې مبارك شه
چې په نامه دې هلکان سر ورکوينه

وطنه! څو چې زۀ ژوندى يم
ستادخدمت نه به وانۀ خلمه لاسونه 12

**دبغلان چګړه**:

ما دبغلان ترلري جار کړې
چې په کښې ورك شول دروسانو قطارونه

**د لوګر چګړه:**

ما دلوګر ترسیمې جار کړې
چې ئې دسرو پوځونو مات کړل ورمېږونه 13

کابل زما دتن جامه ده
د تن جامه به لکه ګل غوندې ساتمه 14

یوځل مې ولیدې وطنه !
بیا مې رضا ده که مې سترګې چینجې خورینه 15

هغه مهال کله چې خوست ته د روسانو ټېنکونه راورسېدل، او د روسانو په خلاف اول اول دغه ځای ځخه دغزا اعلان وشو، دلته چې په روسانوبیا کوم بدحال جوړ کړل شوی وو، هغه په دې لنډۍ کښې داسې خوندي کړل شوی دی:

په سپرۍ[1] خړ ټانکونه راغلل
په توپو ولې سروبي[2] غونډې سرونه 16

افغانستان ته دروسانو راتګ، دخلقیانو ورسره مرسته، دکمونستانو دوره، د روسانو ظلمونه، دتره کي بادشاهي، دامین دوره او د کارمل د تور دور په اړه یو ځولنډۍ چې د مجاهدینو او وطن پالو ستاینه او د خلقیانو غندنه په کښې شوي ده، په دا لاندې ډول دي:

---

[1] : په خوست کښې د یوهٔ کلي نوم دی
[2] : سروبي په تېیوکښې د مجاهدینو غربي محاذ دی

دنیـــا وئیـــل تـــا نـــۀ منلـــه
روســیه ! شـوې خـاورې ایـرې بادبـه دې وړینـه 17
داغـــاړې غرونـــه دریابونـــه
واړه مورچـــل دې روســـان بـــه بلاخورینـــه 18
دجنــرال حســین[*] دې خــدائ کــور وران کــړي
چـې دا بـې ننګـه زوئ ئـې کـور کښـې لویاونـه
لکـه دبـوت پـه چـوکۍ ناسـت دی
ببــرك خنــاس دی خپلــه خــاوره خرڅوینــه 19
دافغانـــــانو لـــــه غیرتـــــه
روســـانو واســـتول دســـولې پیغامونـــه
اول احمـــق دویـــم کـــافر ئـــې
ببرکـــه تـــاچې رنـــګ پـــه روس کـــړل وطنونـــه
دافغانـــــانو زور دې ولیـــــد
چـــې پـــه تـــش لاس دې زغلـــوي ترکېملنـــه
تـــره کیـــه ! څـــۀ چـــارې دې وکـــړې
جبـل تـه دې بوتلـل دېـر بـې شـمېره عالمونـه
امینـــه تـــۀ لاډېـــر لعـــین وې
تاشـــهیدکړل بیـــادې وایســـتل لســـتونه
ببرکـه تـه چـې پـرې راپـېښ شـوې
پـه کیمیـاوي ګـازو دې خـوړین کـړل عالمونـه 20

---

[*]: د ببرک کارمل پلار.

زمـــا وطــــن بـــه ازاديــــږي
خـــاين کارمـــل بـــه تـــل تـــور مخـــې پـــاتې شـــينه
دخـــدایٔ قـــران زمـــونږه بـــس دی
روســـيه ! نـــهٔ منـــو ســـتا نـــوي رواجونـــه 21
لکـــه د غـــرو مغـــروري څـــوکې
د هـــر افغـــان ســـر دې رب داســـې جـــګ لرينـــه 22
پـــه کنـــدهار کښـــې غلبيلـــې دي
بمونـــه اووري غازيـــان شـــنهٔ شـــي وخاندينـــه 23

دغســـې د جهـــاد، شـــهادت، مهـــاجرت، د وطـــن ننـــګ، ســـنګر او د مجاهدې په اړه يو څو لنډۍ دبېلګې په توګه وګورئ:

تـــهٔ دوطـــن دننـــګ شـــهيدئې
زړهٔ مـــې دې خـــاورې شـــي چـــې تـــا بـــه هېرومـــه
د شـــفاعت پـــه لـــویٔ ميـــدان بـــه
لـــه خدايـــه غـــواړم بمبارشـــوي خوينـــدې ورونـــه
بيـــا پســـرلی پـــه وطـــن راغـــی
د شـــــــهيدانو وينووســـــــــپړل ګلونـــــــــه
پـــه وطـــن ســـرې وينـــې بهيـــږي
ډېرپـــرې ژړيـــږي يـــونيم لـــوبې پـــرې کوينـــه
خوينـــدو رانجـــهٔ راڅخـــه واخلـــئ
يـــارمې شهيدشـــو ســـترګې چاتـــه تـــورې ګړمـــه
خدايـــه دنياپـــه زلزلـــه کـــړې
چـــې دښائســـته يارجنـــازه خاوروتـــه ځينـــه 24

ما دلو ګرترسيمې جار کړې
چې ئې دسروپوځونو مات کړل ورمېږونه 25

اماتتي مې ګورکښې کښېږدئ
دسنګر ورونه مې ليدلو ته راځينه 26

شهيده! څومره بختور ئې
په وينو سور ټټردې حورې پاکوينه

شهيد دهر وطن شهيد دی
دجنت شمعې به زمونږ شهيدان وينه 27

خدايه نرى باران پرې وکړې
چې مجاهد غزاته ځي څڼې څنډينه

په يوخوا کونډې بورې ژاړي
بل خواراځي ديتيمانو فريادونه 28

څوك شول تر تورو خاورو لاندې
د چاخېمې په پښوروولاړې دينه 29

د مدينې سردار خبر کړئ
چې په افغان باندې روسان ظلم کوينه

چې جنت ګل په لښکر ګډ شو
خلقيانو جګ کړل د تسليم په دود لاسونه 30

که مې ازاد نۀ کړې وطنه
بيابه تاؤ کړې پټکى نۀ په سر کومه 31

یوه ډېره مشهوره لنډۍ ده، چې:

څوك د وطن په ننګ شهيد شول
چا د شهيد په وينو جوړ کړل بلډينګونه
سحر سبا به رڼا راشي
روس به په شاشي لکه غل او د غلو ملونه
افغانستان کښې شور او شردی
دا مجاهد زلمي وطن ازادوينه 32

په اولسي ادب کښې دا يومنل شوی حقيقت دی چې دپښتو داولسي ادب زياتره برخه هم د ښځو له خوا جوړه شوې ده. او ښاغلی دوست محمددوست هم ددې معترف دی، چې " دپښتو په اولسي ادب کښې عموماً او په لنډيو کښې خصوصاً دښځوونډه ډېره زياته ده. همدغه لنډۍ دي چې په ويرونو،ودونو،دغم اوخوښيوپه وختونو کښې ئې وائي. دلنډيوجوړونکې هم غالباً ښځې وي، زياتې لنډۍ دزړۀ د ژورو تاثراتو، خواشنيواو خپګان انعکاس دي ". 33

يقيناً په پښتو لنډيو کښې داسې بې شانه ډېرې لنډۍ ليدل کيږي چې هغه د ګرائمراو فهم له لوريه يواځې وښځوته منسوب کېدلی شي.

دافغانستان په دې غميزه کښې که څۀ هم ځوانانو دسنګر مورچلونه تاودۀ ساتلي وو، نو پښتنې پېغلې، ميندې اوخويندې هم په دا مجاهدې کښې هېڅ شاته نۀ دي پاتې شوې. کله چې ځوانانو په سنګرونو کښې دخپلو وينو نذرانې وړاندې کولې ، نو هم دهغوئ ميندو، خويندو او تورسرو تل په خپلوشهيدانو اوغازيانو وياړ کړی. ځکه خو افغانان ډاډه وو چې ئې دا ډول ننګيالۍ پښتنې په خپلو کورنو کښې لرلې. هغه جهادي لنډۍ چې دمجاهدينو دخويندو،ميندواو يا دهغوئ دژوند د ملګرو له خوا وئيل شوې دي هم په ډېر شمېره سره موجودې دي. له دغسې لنډيو نه يوڅو دلته لاندې راوړل کيږي:

ورورجان مې لاړو مجاهد شو
دلويوغروزمريان ئې مخې ته راځينه

زماشهيده ځوانه وروره
له ارمانونوبه دې جوړکړم کتابونه 34

شېرينه وروره ارمانجنه
زۀ دې ړنده شم چې به نۀ درسره تلمه

شهيده وروره رارسېږه
سترې ستومانه دې مزار ته ناسته يمه

خورچې د ورورپه مرګ خبريږي
زړونه رپيږي سترګې اوښکې تويوينه

د ورور له غمه لېونۍ شوم
عالمه مه مې ګرَموئ چې هر څۀ کړمه 35

که په شمارزرکالونه تېرشي
هېربه مې نۀ شي دشهيد ورور فريادونه 36

جانان به ولې توره نۀ کړي
چې په سنګر کښې ئې تر څنګ ولاړه يمه

زړۀ مې سوری، وينې ترې څاڅي
زۀ د شهيدله قبره اوس راغلې يمه 37

اصلي وطن مې ننګرهاردی
اوس دغم عمر پېښورکښې تېرومه 38

جهادته ځمه رخصت راکړه
زما په حال به تقدير څۀ ليکلي وينه

جهادتـــه درومـــې پروامـــه کـــړه
زۀ بـــه دنیمـــې شـــپې دعادرتـــه کومـــه

شـــــهیده ســـــتامزارګلزاردی
زۀ بـــه شـــبنم داوښـــکوتل پـــرې تویومـــه

د څرخـــي پـــل زندانـــه وران شـــي
پـــه دیـــن مئـــین ځوانـــان دې ډېـــر وژلـــي دینـــه

وطـــن بـــه کلـــه خـــلاص کـــړې خدایـــه
پـــه تمـــه تمـــه دې زَړې کـــړې نـــاوې انجونـــه 39

خـو پـه مجمـوعي توګـه د دې دورد لنـډیو سـاخت او ماهیـت تـه کـه وکتـل شـي نـو دجوړښـت پـه لحـاظ کـوم خـاص نـوی والـی نـۀ لري، بلکـې پـه دې کښـې اکثـره هغـه لنـډۍ دي چـې د مخـه پـه یـو نـه یـو صـورت وئیـل شـوې دي، خوپـه دې کښـې نـوی رنـګ دالفـاظو تغیـراو د روانـو واقعـاتو پـه کـالبوت کښـې زَړې لنـډۍ اچـول دي، یعنـې داسـې بـه ډېـرې کمـې لنـډۍ وي چـې هغـه دې پـه کـوم نـوي او منفـرد ډګـر وئیـل شـوې وي. هـم دا وجـه ده چـې پـه دې لنـډیو کښـې یوشـان والی، تصـنع او ریـا زیاتـه ښـکاري. ترکومـه چـې ددې لنـډیو دموضـوعاتواو مـوادو تعلـق دی، نـو اکثرموضـوعات ئـې د جهـاد، شـهادت، دوطـن مینـه، ازادي، هجـرت، ظلم زیـاتی، دشـورویانو تراټنـه، غندنـه اودخلقیـانواو پرچمیـانو ملـي خیانـت او ځنې نوردي. ولـې پـه موضوعاتو کښې ئې هم یو ډول تکراري حالت زیات لیدل کیږي.

۞۞۞

# حوالې

۱. محمد صدیق روهي، "دادب او فوکلور په باره کښې ،انتشارات کمیته دولتي طبع و نشرح .د.افغانستان، ۱۳۶۵هـ ش، مخ ۱- ۲
۲. دوست محمد دوست، دپښتو داولسي ادب لارې، پښتوټولنه کابل، ۱۳۵۶ هـ ش، مخ، ۱
۳. حبیب الله رفیع ،دخلقو سندرې، دافغانستان اکاډمي دتاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ هـ ش ،م ۵- ۶
۴. سپېدي(۱۲) ، دوېمه روره، شپږمه ګڼه ، ۱۳۷۱هـ ش، مخ ۱۵۲- ۱۵۳
۵ . زلمی هېوادمل، دپښتو ادبیاتو لرغونې او مینځنۍ دوره، دانش خپرندوئ ټولنه، پېښور، ۲۰۰۰ء، م ۲
۶ . دخلقو سندرې ، م. ۱۰۴
۷ . پښتني سندرې لومړی ټوك، په حواله: پښتوجهادي ادب، محمدعارف غروال، احسان خپرندوئ ټولنه پېښور، ۱۳۸۱ هـ ش، مخ، ۱۱۱
۸ . ایضاً
۹ . دپښتود اولسي ادب لارې، مخ ۷۰
۱۰. محمدعارف غروال " جهادي ادب " م م ۱۳۴-۱۳۵
۱۱. سپېدې دوه میاشتنۍ(۷)، دوېمه دوره، دوېم کال ، لومړۍ ګڼه، سلسله نمبر۲۸، مخ ۲۲۶
۱۲. سپېدې(۱۲) درېمه دوره، دوېم کال، شپږمه ګڼه، ۱۳۷۱ هـ ش، مخ ۸۳، ۶۳.
۱۳. سپېدې(۵) ، لومړی کال، پینځمه ګڼه ۱۳۶۳ هـ ش ، مخ ۶۲-۶۳
۱۴. سپېدي(۸)، لومړی کال اتمه ګڼه ، ۱۳۶۳هـ ش، مخ ۷۱،
۱۵. سپېدې (۱۱)، لومړی کال، یوولسمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش، م م ۷۰، ۷۳
۱۶. دوه میاشتینۍ سپېدې مجله، دوېمه دوره، څلورمه ګڼه، لیندۍ، ۱۳۶۹ ، پرله پسې ګڼه، ۲۵، مخ، ۸۹. افغانستان کلتوري ټولنه، پېښور
۱۷. سپېدې( ۱۳)، دوېم کال ، لومړۍ ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش. مخ ۵۳-۵۴

۱۸. سپېدې (۱۲)، لومړی کال ، لسمه ګڼه، ۱۳۶۴هـ ش، مخ . ۶۶
۱۹. سپېدې (۱۸)، دریم کال ، شپږمه ګڼه، ۱۳۶۴هـ ش، مخ ۹۴-۹۵
۲۰. سپېدې(۶)، لومړیکال، شپږمه ګڼه، ۱۳۶۳ هـ ش، مخ ۷۴-۷۶
۲۱. سپېدې( ۲۰) دویم کال، اتمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش ، مخ ۸۵، ۸۶، ۸۷، ۸۸.
۲۲. سپېدې( ۲۱)، دریم کال ، نهمه ګڼه، ۱۳۶۵ هـ ش، مخ ۸۴، ۸۶، ۸۷
۲۳. سپېدې (۷)، دویمه دوره، دویم کال، لومړۍ ګڼه، سلسله نمبر ۲۸، مخ ۲۲۳-۲۲۵.
۲۴. سپېدې ،دویمه دوره،دویمه ګڼه ،زمری،وږی، ۱۳۶۹، پرله پسې ګڼه ۲،مخ ۱۲۴- ۱۲۶،افغانستان کلتوري ټولنه، پېښور
۲۵. سپېدې(۵) لومړی کال، پینځمه ګڼه ۱۳۶۳ هـ ش، مخ ۶۲-۶۳
۲۶. سپېدې( ۲۱)، دویم کال، نهمه ګڼه، ۱۳۶۵ هـ ش، مخ ۸۵، ۸۶، ۸۷
۲۷. سپېدې( ۱۴)، دویم کال، دویمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۷۰، ۷۱، ۷۲.
۲۸. سپېدې دویم کال، پینځمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۸۸، ۸۹
۲۹. سپېدې( ۱۲)، دویمه دوره، دویم کال،شپږمه ګڼه، ۱۳۷۱ هـ ش،مخ ۱۶۳
۳۰. سپېدې(۷)، دویمه دوره، دویم کال، لومړۍ ګڼه، سلسله نمبر ۲۸، مخ ۲۲۵، ۲۲۳ .
۳۱. سپېدې( ۶)، دویمه دوره، شپږمه ګڼه، ۱۳۷۰هـ ش، مخ ۲۰۲.
۳۲. سپېدې(۱۱)، لومړی کال، یوولسمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۷۲
۳۳. دوست محمد دوست ، مخ ۷۳ .
۳۴. سپېدې( ۷)، دویمه دوره، دویم کال، لومړۍ ګڼه، سلسله نمبر ۲۸، مخ ۲۲۳
۳۵. سپېدی( ۶)، لومړی کال،شپږمه ګڼه، ۱۳۶۳ هـ ش، مخ ۷۵
۳۶. سپېدې(۱۸)، دویم کال ، شپږمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۹۴ .
۳۷. سپېد ې(۱۴)، دویم کال، دویمه ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۷۱-۷۲.
۳۸. سپېدې(۱۳).دویمه دوره، دویم کال، لومړۍ ګڼه ، ۱۳۷۱ هـ ش، مخ ۲۰۲.
۳۹. سپېدې(۱۲)، دویمه دوره، دویم کال، شپږمه ګڼه، ۱۳۷۱ هـ ش، مخ ۱۶۲ -۱۶۳